ورځپاڼه
هېواد

اسلامي امارت راستنېدونکو ته ۱.۵ ميلیارده افغانۍ ځانګړې کړې

د اسلامي امارت د ویاند مرستيال حمدالله فطرت د هرات اسلام کلا پولې څخه د لیدنې پرمهال ویلي: سرپرست حکومت بېرته راستنېدونکو ته د خدماتو رسولو او د موقتي سرپناه جوړولو لپاره یو نیم ميليارد افغانۍ ځانګړې کړې.ده وویل: په دې وروستيو اوونيو کې له ایرانه د بېرته راستنو شویو کډوالو شمېر شاوخوا نیم میلیون تنو ته رسېږي. دی زیاتوي، چې اسلام کلا بندر کې وضعیت تر کنټرول لاندې دی او د حکومت خدماتي کمېټې بېرته راستنېدونکو ته د خدماتو وړاندې کولو په حال کې دي. د کډوالو چارو ته د رسېدو کمېټې د مسئولینو په وینا، هره ورځ د هرات د اسلام کلا له لارې له ایران څخه بانډې ۳۰ زره افغانان هېواد ته راستنېږي. له دې وړاندې د اسلامي امارت رئیس الوزراء ملا محمد حسن اخوند له ایرانه غوښتي وو، چې د افغان کډوالو د را اېستلو پر مهال دې له هغوی سره د سپکاوي له چلنده ډډه وکړي. د یادونې وړ ده چې د ملګرو ملتونو د شمېرو له مخې، د ۲۰۲۵ کال له پیل راهیسې د جون تر پایه پورې شاوخوا ۹۴۹ زره افغانان له ایران او پاکستانه راستانه شوي چې له دې ډلې، ۷۴۱ زره له ایران او ۲۰۸ زره نور له پاکستانه په زور اېستل شوي دي.

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
یکشنبه د محرم الحرام ۱۷ مه ۱۴۴۷ق کال، د چنګاښ ۲۲ مه ۱۴۰٤ ل کال، د جولای ۱۳ مه ۲۰۲۵م کال، خصوصي ګڼه ۸۹ یمه ، پرله پسې ګڼه ۷۵۲مه، اتمه دوره

د افغانستان او قطر ډيپلوماتيکې اړيکې پراختيا مومي

په کابل کې د قطر دولت د سفارت شارژدافير ډاکټر مردف القاشوطي پرون د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو له وزير مولوي امير خان متقي سره وکتل. په دې ناسته کې د افغانستان او قطر پر دوه اړخيزو اړيکو، د ډيپلوماتيکو اړيکو د کچې پر لوړولو او سيمه‌ييزو مسايلو خبرې وشوې . په پيل کې د هېواد د بهرنيو چارو وزير د قطر دولت سره د افغانستان د اسلامي امارت اړيکې مهمې وبللې او په ګڼو سيمه‌ييزو او نړيوالو فورمونو کې يې د قطر د ملاتړي رول ستاينه وکړه. ډاکټر مردف القاشوطي هم د دواړو هېوادونو اړيکې مخ پر ودې وبللې او په څو اړخيزو فورمونو کې يې د افغانستان د بهرنيو اړيکو د لا پراختيا په برخه کې د خپل هېواد د مثبت رول لوبولو په اړه چمتووالی وښود.

افغانستان او قزاقستان د سوداګرۍ کچه تر ۳ میلیاردو ډالرو لوړوي

د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزير نورالدين عزيزي د قزاقستان د لومړي وزير له مرستيال او د بهرنيو چارو له وزير نور تليو سره د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او اقتصادي اړيکو د پراختيا په اړه خبرې کړې دي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت ويلي: په دې ليدنه کې دواړو لورو هوکړه کړې چې د سوداګريزو اړيکو کچه به تر ۳ ميلياردو ډالرو پورې لوړه کړي. ياد وزارت په يوې خبرپاڼه کې ټينګار کړی، چې همکاري بايد د کرنيزو محصولاتو پر صادراتو محدوده نه وي او بايد د صنعتي محصولاتو او ټکنالوژۍ وارداتو او صادراتو ته هم ځانګړې پاملرنه وشي. د سوداګرۍ وزارت

شرکتونو د جوړولو او د افغان سوداګرو لپاره د ويزو په ورکولو په وينا، دواړو خواوو د سړک او اورګاډي د ګډو ټرانسپورټي کې د اسانتياوو رامنځته کولو په اړه هم هوکړه کړې ده.

له افغانانو څخه د ملاتړ پر دوام د اروپايي ټولنې ټينګار

اروپايي ټولنې د جولای د ۱۱مې په مناسبت، چې هر کال د نفوسو د نړيوالې ورځې په توګه لمانځل کېږي، د افغانانو د ملاتړ پر دوام ټينګار کړی دی. يادې ټولنې په يوه پيغام کې

ويلي، چې افغانانو ته په بېلابېلو برخو کې د خدمتونو وړاندې کولو ته ژمن يو. همدارنګه د زده کړو د پراختيا تر څنګ د يونيسف او خوړو د نړيوال پروګرام ... ۳مخ

د افغانستان بانک:

په هېواد کې د بهرنيو اسعارو کارول کم شوي

د اسلامي امارت له خوا تر دې دمه څو فرمانونه د بهرنيو اسعارو د کارونې د ممنوعيت په اړه صادر شوي.

په نوامبر مياشت کې هم يو بل رسمي فرمان صادر شو، چې په کې د معاملاتو پرمهال د بهرنيو اسعارو پر نه کارولو او په ټولو معاملاتو کې د افغانيو پر استعمال ټينګار شوی. اسلامي امارت له څو مياشتو راهيسې د دې فرمان د جدي پلي کېدو لپاره کمپاين هم پيل کړی. اوس د افغانستان بانک مسئولين وايي: په دې بريالي شوي چې افغانۍ هغو سيمو ته ورسوي چې پخوا يې ځای بهرنيو اسعارو نيولی و. د افغانستان بانک وياند حسيب الله نوري وايي: ((د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه توانېدلی، په هغو سيمو کې چې له دې وړاندې په کې سيمه ييز اسعار کارېدل، هلته افغانۍ ترويج کړي. افغانۍ اوس د سيمې د هېوادونو په کچه د غوره ثبات لرونکې کرنسۍ په لړ کې ځای لري او په کار ده ... ۳مخ

د کابل ـ استانبول ترمنځ د پروازونو پر پيل خبرې وشوې

د ټرانسپورټ وزارت د واټ ټرانسپورټ معين ملا عبدالسلام حيدري د قزاقستان د ټرانسپورټ وزارت مرستيال کالياکپاروف ماکسات سره وکتل. د ټرانسپورټ وزارت خبر ورکړی، دې کتنه کې دواړو لوريو د ټرانسپورټي اړيکو، د دواړو هېوادونو ترمنځ د نړيوال واټ ټرانسپورټ د لېږد را لېږد هوکړې او د کابل او استانې ترمنځ د مستقيمو پروازونو پر پيل خبرې وکړې. ملا عبدالسلام حيدري قزاقستان سره ټرانسپورټي اړيکې له سيمې او نړۍ سره د همکاريو د پياوړتيا په اړه د افغانستان د ستراتېژۍ مهمه برخه بللې او په خبره يې د دې هوکړو

عملي کول به له دواړو هېوادونو او سيمې سره په سوداګريزو او ټرانزيټي راکړه ورکړه کې د پام وړ بدلون رامنځته کړي.
بله خوا د قزاقستان د ټرانسپورټ وزارت مرستيال هم افغانستان سره د ټرانسپورټ برخه کې د دوه اړخيزو اړيکو پر پياوړتيا ټينګار کړی.

میرویس عزيزي له کډوالو سره د يو ميليارد افغانيو مرسته اعلان کړه

د عزيزي بنسټ مشر «ميرويس عزيزي» له ايران څخه راستنو شويو افغان کډوالو سره يو ميليارد افغانۍ مرسته اعلان کړه.
د عزيزي بنسټ مشر ميرويس عزيزي لا وړمه ورځ اعلان وکړ چې ده د هغو کډوالو اړتياوو ته د رسېدو لپاره يو ميليارد افغانۍ ځانګړې کړې دي چې په دې وروستيو کې له ايران څخه اېستل شوي دي.
ده د ايکس ټولنيزې شبکې په يوه پيغام کې د راستنېدونکو افغان کډوالو وضعيت "بشري ناورين" وباله او له ملي او نړيوالو ادارو

يې وغوښتل چې دې کړکېچ ته جدي پاملرنه وکړي. د ښاغلي عزيزي پيغام کې راغلي دي: ((زه د هغو هېوادوالو لپاره چې له کلونو کډوالۍ وروسته په سختو او بدو شرايطو کې هېواد ته راستنېږي، له خدايه د صبر او استقامت غوښتنه کوم او هيله لرم چې دوی په خپل هېواد کې باعزته او خوندي ژوند وکړي.)) ... ۳مخ

درقد ولسوالۍ کې د آمو سيند څنډو د ټينګښت د اتم لاټ پروژې چارې ۵۹ سلنه پرمخ تللي

د آمو سيند څنډو د ټينګښت رئيس محترم مولوي وکيل احمد نقي او د دغه رياست تخنيکي سلاکار محترم انجنير سيدرحمن څدراڼ د تخار ولايت په درقد ولسوالي کې د آمو سيند څنډو د ټينګښت پروژې د چارو له بهير څخه څارنه وکړه او اړوندو مسئولينو ته يې د چارو د چټکتيا او ښه کيفيت په موخه اړينې لارښوونې وکړې.
د دغې پروژې چارې چې د اوبو او انرژۍ وزارت له پرمختيايي بودجې څخه د ۶۵ميليونه، ۳۸۴ زره او ۵۹ افغانيو په لګښت پرمخ وړل کېږي، تر اوسه پورې ۵۹ سلنه بشپړې شوې دي. د يادونې وړ ده، چې د دغې تحکيماتي پروژې مقطع له ميکس موادو څخه خاورينه پشته ده او مخې ته يې د ډبرو ګبيونونه په پام کې نيول شوي چې يو کيلو متر اوږدوالی لري.

هرات کې د ۱۰۰ تنو معتادينو درملنه

د هرات د امنيې قوماندانۍ مسئولين وايي چې د دغه ولايت د روږدو په کمپ کې د څه باندې سلو روږدو کسانو درملنه شوې ده. د ياد ولايت د امنيې قوماندانۍ د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې مدير مولوي حيات الله روحاني باختر اطلاعاتي آژانس ته ويلي چې دغه روږدي کسان د ياد ولايت د ښار او ولسواليو له بېلابېلو سيمو څخه راټول او له درې مياشتنۍ درملنې وروسته له خپلو کورنيو سره يو ځای شوي دي. نوموړې زياته کړې، چې يوازې د تېرې اوونۍ په بهير کې د ياد ښار ... ۳مخ

د هلمند د باباجي ولسوالۍ اوسېدونکي:

۷۰ سلنه ماشومان مو له زده‌کړو محروم دي



د هلمند د باباجي ولسوالۍ يوشمېر اوسېدونکي وايي: د ښوونځيو د کمښت له امله يې ۷۰ سلنه ماشومان له زده‌کړو بې‌برخې دي. دوی له مسئولينو غواړي چې سيمه کې يې نوي ښوونځي جوړ کړي. د باباجي ولسوالۍ دوو اوسېدونکو عبدالقدوس او سردارولي وويل: ((له اسلامي امارت څخه مو غوښتنه داده، چې موږ ته ښوونځي جوړ کړي، دغه مکتب د داودخان په وخت کې جوړ شوی. دلته ماشومان ډېر دي، تقريباً ۷۰ سلنه خلک نالوستي پاتې شوي.)) ((دلته اکثره خلک بې سواده پاتې دي ... ۳مخ

اسلامي امارت پر ۴۹۵۴ کډوالو کورنيو نغدې مرستې ووېشلې

د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسيون خبر ورکړی، وړمه ورځ يې پر ۴زره ۹۵۴ کډوالو کورنيو چې تازه له ګاونډيو هېوادونو اېستل شوي نغدې مرستې وېشلې دي. د ياد کمېسيون د معلوماتو له مخې پر دغو کورنيو ۴۲ميليونه ۸۶۳ زره افغانۍ وېشل شوي. د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسيون په خبره، يوازې لا وړمه ورځ له ۳۰ زرو ډېر افغانان له ګاونډيو هېوادونو اېستل شوي. دا په داسې حال کې ده، چې د پنجشنبه په ورځ هم ياد کمېسيون راپور ورکړی و، چې د اسلام کلا او وربښمو پله له لارې ۲۸ زره افغان کډوال هېواد ته راستانه شوي دي.

سرلیکنه

په نړیوالو اړیکو کې د افغانستان د پرمختګ هیلې زیاتې شوې!

د هر ملت سیاسي مشروعیت او نړیوال تعامل په نړیواله سطحه د رسمیت پېژندنې له لارې تحقق مومي. اسلامي امارت له پیله د هېواد سیاسي، امنیتي او ټولنیز وضعیت ته د باثباتۍ بڼه ورکړې، اوس د نړیوالو اړیکو په ډګر کې هم د پام وړ پرمختګونه کوي. د روسیې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه، نه یوازې یو تاریخي اقدام دی، بلکې د افغانستان د بهرنۍ تګلارې د متوازن، هوښیارانه او تدریجي پرمختګ یو مهم محصول بلل کېږي. د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو مطالعاتو مرکز له خوا جوړه شوې علمي غونډه چې پکې د یاد اقدام پر اهمیت، عواملو او فرصتونو ژور بحثونه وشول، دا څرګندوي چې اسلامي امارت د نړیوال سیاست له واقعیتونو سره ژور تعامل لري او په عقلانیت سره د خپل مشروعیت د نړیوال تأیید لپاره کار کوي. د بهرنیو چارو وزارت چارواکو د غونډې پر مهال څرګنده کړه چې د روسیې دا پرېکړه د یوه تدریجي او محتاطانه سیاسي بهیر پایله ده. روسیه د اسلامي امارت له بیا حاکمیت وروسته، د سیمه‌ییزو امنیتي تحولاتو، د نشه‌يي توکو پر ضد د مبارزې، د مثبتو تعاملاتو او د اسلامي امارت د واقع‌بینانه سیاست له امله دې نتیجې ته ورسېده، چې اسلامي امارت باید د مشروع نظام په توګه ومنل شي. دا پرېکړه نه یوازې دا ښیي چې روسیه د افغانستان د نوې رهبرۍ پر واقعي ظرفیتونو باور لري، بلکې دا یې هم ثابته کړه، چې اسلامي امارت د شکونو او سوءتفاهمونو د لرې کولو لپاره یوه مؤثره او هوښیاره تګلاره خپله کړې ده. د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه، په ځانګړې ډول د روسیې غوندې نړیوال ځواک له لوري، د سیاسي تعامل، اقتصادي همکاریو، سیمه‌ییز ثبات، ټرانزیټ، پانګونې، صنعتي پراختیا او د انرژۍ په برخو کې د پراخو فرصتونو دروازې پرانیزي. روسیه نه یوازې یو قدرت دی، بلکې د شانګهای سازمان د مرکزي آسیا د هېوادونو همکار او د افغانستان په غوره چاپېریال کې یو کلیدي لوبغاړی هم دی. له همدې امله د روسیې له خوا د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه، نورو هېوادونو ته هم یو مهم پیغام لري. اسلامي امارت له یوه موقتي وضعیته، د یوه مضبوط، مسئول او مشروع نظام په توګه نړیوال هویت مومي. تر ډېره اسلامي امارت له نړۍ سره خپلې اړیکې د رسنیزو بیانونو او استازو له لارې پراخولې، خو اوس دا تعاملات عملي بڼه غوره کوي. د رسمیت پېژندنې له امله، اسلامي امارت کولای شي له روسیې سره اوږدمهالې تړونونه، اقتصادي تفاهملیکونه، تخنیکي همکارۍ او سیمه‌ییزې پروژې تطبیق کړي، چې دا به د هېواد د اقتصادي ودې، صنعتي پراختیا، زېربناوو، ټرانزیټي اړیکو او د پانګونې لپاره نوې فضا برابره کړي. اسلامي امارت د خپلو اړیکو په مدیریت کې «متعادل، بې‌طرفه، د متقابل احترام او د نورو په داخلي چارو کې د نه مداخلې» تګلاره خپله کړې، چې دا د یوې خپلواکې او باعزته بهرنۍ پالیسۍ نښه ده. دا تګلاره نه یوازې له اسلامي اصولو سره سمه ده، بلکې د سیمې له واقعیتونو او نړیوالو معیارونو سره هم برابره ده. که څه هم ځینې هېوادونه لا د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په اړه ځنډ ښیي، خو د روسیې اقدام دا واقعیت لا ډېر روښانه کوي چې نړیوال سیاست یوازې د احساساتو، ارزښتونو یا یو اړخیزو توقعاتو پر اساس نه، بلکې د واقعیت، متقابلو ګټو، امنیتي اړتیاوو او سیمه‌ییزو ثباتي فکتورونو پر اساس تصمیم نیسي.

د روسیې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه د افغانستان د بهرني سیاست په تاریخ کې یو مهم تحول دی. دا تحول نه یوازې د سیاسي مشروعیت یو ستر ګام دی، بلکې د نړیوال تعامل، اقتصادي پراختیا، سیمه‌ییز ثبات او د هېواد د نړیوال مقام د احیا پیل ګڼل کېږي.

د روسیې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه یو مهم سیاسي تحول ګڼل کېږي

عبدالرحمن فضلي

په نړیوالو اړیکو کې داسې شېبې شته، چې د یو هېواد لپاره نه یوازې سیاسي مانا لري، بلکې د اوږدمهالې اقتصادي بدلون بنسټ هم جوړوي. د روسیې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه، یوه همداسې تاریخي شېبه ده، چې د افغانستان د سیاسي ثبات، اقتصادي ودې او نړیوال حیثیت لپاره د امید ځراغ روښانه کولای شي. دا پرېکړه د هغو کلونو ستونزمنو حالاتو ته یو قاطع او مثبت ځواب دی، چې د افغانستان د پانګونې فضا په کې سړه شوې وه او ملت له پراخو اقتصادي کړاوونو سره مخ و.

روسیه، چې د سیمې او نړۍ له مهمو قدرتونو څخه ده، د افغانستان له اوسني نظام سره یې د رسمي اړیکو اعلان نه یوازې یو سیاسي ابتکار دی، بلکې دا یو ستر اقتصادي فرصت هم دی. دغه اقدام ښیي چې د نړۍ مهم لوبغاړي د تعامل له لارې د ستونزو د حل غوښتونکي دي، نه د انزوا او بندیزونو له لارې. له همدې امله د افغانستان خصوصي سکتور، پانګوال او اقتصادي شنونکي د روسیې دا ګام د یو نوي اقتصادي باب د پیل په توګه ارزوي، چې له مخې به یې د افغانستان سوداګرۍ، پانګونې، صادراتو او کارموندنې ته پراخ بابونه خلاص شي. په داسې حال کې چې افغانستان لا هم له لوېدیځو بندیزونو، مالي محدودیتونو او د نړیوالې بانکدارۍ له کنګله رنځ وړي، د یوه ستراتېژیک هېواد له خوا رسمي پېژندنه یو داسې فرصت بلل کېږي، چې د هېواد پر اقتصادي برخلیک د پام وړ مثبته اغېزه لرلای شي. دا همکاري که هوښیارانه مدیریت شي، نه یوازې به د افغانستان اقتصادي بنسټونه پیاوړي کړي، بلکې هېواد به له سیاسي انزوا ووځي او د یو باعزته، تعامل‌محور د واقعیت منلو ته چمتو شوي دي. دا پرېکړه کولای شي چې د نورو هېوادونو لپاره هم یو مثال شي او نړیوالو ته دا وښیي چې له افغانستان سره تعامل نه یوازې ممکن دی، بلکې

او پر ځان متکي ملت په توګه به په سیمه کې خپل دریځ ټینګ کړي.

په هر صورت د روسیې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه یو مهم سیاسي تحول ګڼل کېږي، چې ښایي د هېواد لپاره د یوه نوي اقتصادي دور بنسټ کېږدي. دا پرېکړه، نه یوازې یو سیاسي پیغام لري، بلکې له اقتصادي اړخه هم ژورې او پراخې اغېزې لري، چې د افغانستان د خصوصي سکتور، شنونکو، سوداګرو او پانګوالو تمې یې راژوندۍ کړې دي.

د روسیې د ستراتېژیک اقدام په لړ کې، د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه یو مثبت پیغام لري؛ دا پیغام د دې نښه ده چې د سیمې ځواکمن هېوادونه د افغانستان د نوي نظام ګټور هم دی.

د افغانستان خصوصي سکتور، د روسیې دغه ګام د اقتصادي ودې لپاره یوه تاریخي چانس بولي. د سوداګرۍ او پانګونې خونې د مدیره پلاوي غړی، خانجان الکوزی، دا پرېکړه د بندیزونو د نرمېدو، د مالي نظام د خلاصېدو او د سیمه‌ییزو همکاریو د پراخېدو لپاره یو مثبت سیګنال بولي. که څه هم دا مهال د افغانستان او روسیې ترمنځ کلنۍ سوداګري نږدې ۳۰۰ میلیونه افغانۍ ده، خو د مسکو له پرېکړې وروسته تمه ده چې دا ارقام چټک بدلون ومومي. د روسیې په څېر له یو قدرتمن هېواد سره رسمي اړیکې دا زمینه برابروي، چې په انرژۍ، انجنیرۍ، ټرانسپورټ، کرنه، کان کېندنه او نورو برخو کې سترې پانګونې راجلب شي.

د اقتصادي چارو شنونکی عبدالظهور مدبر پر دې ټینګار کوي، چې د سیاسي مشروعیت او اقتصادي همکاریو ترمنځ مستقیم تړاو شته. دی وایي: د منابعو د پراخ وېش له امله هېڅ هېواد نشي کولای یوازې پر خپل ځان تکیه وکړي؛ نو ځکه، متقابل تعامل او همکارۍ د اړتیا وړ ده. د اقتصادي چارو بل شنونکی عبدالشکور هډه‌وال د سیاست او اقتصاد ترمنځ نغښتې اړیکې ته اشاره کوي. دی وایي، چې هره سیاسي لاسته‌راوړنه مستقیمه اقتصادي پایله لري. د روسیې دا ګام، له نورو هېوادونو سره د اسلامي امارت د ډیپلوماتیکو اړیکو د پراخېدو لپاره هم زمینه برابروي. دا پراخې اړیکې به له شک پرته، د افغانستان اقتصاد ته نوی نفس ورکړي او په هېواد کې به د زرګونو خلکو لپاره د کار زمینه مساعده کړي.

د بې‌روزګارۍ کچه به راټیټه شي، خصوصي سکتور به فعال شي او دا به د افغانستان د کورني تولید، صادراتو او مالي ثبات لپاره پیاوړې ملاتړې وي. که څه هم روسیې تر دې دمه په افغانستان کې لویې پانګونې نه دي کړې، خو د دغه هېواد تخنیکي، انجنیري او د انرژۍ د سکټورونو وړتیاوې د پام وړ دي. اوس، چې سیاسي فضا آرامه شوې او د رسمیت لومړنی ګام پورته شوی، تمه ده، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د تېلو، ګازو، برښنا، کان کیندنې او انجنیري پروژو لپاره عملیاتي همکارۍ پیل شي.

دا چاره نه یوازې بهرنۍ پانګونه جذبوي، بلکې د محلي ظرفیتونو د پراختیا، د مهارتونو د لېږد او پرمختللې ټکنالوژۍ ته د لاسرسي زمینه هم برابروي.

که څه هم د لوېدیځو هېوادونو سیاسي دریځونه لا هم یو ډول احتیاط ښیي، خو د روسیې دا اقدام هغوی ته یو واضح پیغام لېږي، د افغانستان له اوسني نظام سره تعامل نه یوازې ممکن دی، بلکې د متقابل احترام پر بنسټ پیاوړې پایلې لري. شنونکي وایي: که د روسیې دا ابتکار نورو هېوادونو ته الهام ورکړي، دا به افغانستان ته د سیاسي مشروعیت، اقتصادي ودې او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي دروازې پرانیزي.

د روسیې له لوري د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه، نه یوازې یو سیاسي بری دی، بلکې دا د اقتصادي تحول یو قوي بنسټ هم ګڼل کېږي. دا اقدام به له شک پرته، د پانګونې، صادراتو، کارموندنې، زیربنایي پروژو او نړیوالو همکاریو په برخه کې د پام وړ بدلونونه راولي. که دا لړۍ دوام وکړي او نور هېوادونه هم له مسکو څخه الهام واخلي، افغانستان به وکولای شي چې له انزوا راووځي، خپلې اقتصادي پیاوړتیاوې فعالې کړي او د یو پر ځان بسیا هېواد په توګه نړیوالو ته ځان وروپېژني.

له همدې امله، د روسیې پرېکړه یوازې یو رسمي اعلان نه دی؛ بلکې دا د افغانستان لپاره د اقتصادي ودې او نړیوال تعامل یوه بله دروازه ده، چې باید د تدبیر، ژمنتیا او ملي اجماع له لارې پرانیستل شي او ترې اغېزمنه استفاده وشي.

په تبلیغ او دعوت کې له حکمت څخه کار اخیستل د انبیاوو طریقه ده

احمدخان زیار

دا چې دعوت یو ستر او سپېڅلی مسئولیت دی، نو لازمه ده چې په ډېره ښه او احسنه طریقه یې مسئولین سرته ورسوي. الله تعالی د ابراهیم علیه السلام کیسه داسې کوي. ژباړه:« یعنې یوه شپه چې کله تیاره خپره شوه، د ده پر یوه ستوري نظر پریوت، نو خپل قوم ته یې د اورولو لپاره وویل، چې دا ستوری زما رب دی. مطلب یې دا و، چې ستاسې د خیالاتو او عقیدې په بناء سره زما او ستاسې رب یعنې پالونکی دی، اوس به د دې حقیقت ووینئ، نو لږ ساعت وروسته هغه ولوېد، نو حضرت ابراهیم ته پر قوم د حجت قایمولو لپاره ښکاره موقع په لاس ورغله او ویې ویل: زه له لوېدونکي شي سره محبت نه ساتم او څوک چې خدای یا معبود جوړول کېږي، ښکاره خبره ده، چې هغه د زیات محبت او عظمت مستحق دی.» سورة الانعام ۷۵ ایت، تفسیر معارف قران د دې ایت په دوام حضرت ابراهیم (ع) له دې وروسته بیا په یوه بله شپه برېښېدونکې شپوږمۍ ولیده، نو بیا یې خپل قوم ته د اورولو لپاره هم هغه طریقه اختیار کړه او ویې ویل چې (ستاسې د عقیدې مطابق) دا زما رب دی، مګر د دې حقیقت به هم څه ساعت وروسته ووینئ، نو چې کله هغه میاشت ولوېده، نو ویې فرمایل چې که ماته زما رب هدایت نه کولی، نو زه به هم ستاسې په ډول په ګمراهانو کې داخل شوی وم او سپوږمۍ به مې خپل رب او معبود ګڼلې وای. لیکن د دوی د ختلو او لوېدلو بدلیدونکو حالاتو زه خبر کړم چې دا سپوږمۍ هم د عبادت قابل نه ده. په دې ایت کې یې دې طرف ته هم اشاره وکړه چې زما رب څه بل شی دی چې د هغه له طرف څخه ماته هدایت کېږي. له دې وروسته یې یوه ورځ لمر ختونکی ولیده، نو بیا یې قوم ته د اورولو لپاره په دې ډول وفرمایل چې (ستاسې د خیال مطابق) دا زما رب دی او دا خو له ټولو لوی دی، مګر د دې لویوالي حقیقت او حیثیت به هم ډېر ژر ستاسې مخ ته راشي، نو چې لمر ولوېده، پر قوم باندې له آخري حجت تمامولو وروسته یې اصلي حقیقت په واضح ډول داسې بیان کړ:«ای زما قومه! زه ستاسې له دې کفري خیالاتو څخه بېزاره یم، چې تاسې د خدای(ج) مخلوقات له خدای سره شریک جوړوئ، له دې وروسته یې دا حقیقت ښکاره کړ چې زما او ستاسې رب(پالونکی) په دې مخلوقاتو کې هېڅ یو هم نه شي کېدای، کوم چې په خپل وجود کې د بل محتاج وي او هر وخت هره ګړۍ د ترقۍ او نزول، ختلو او لوېدلو په اوښتون او بدلون کې ښکېل وي. بلکې زموږ د ټولو رب هغه دی چا چې اسمانونه او ځمکې او په دې کې پیدا کېدونکي ټول مخلوقات پیدا کړي دي. په دې وجه ما خپل مخ ستاسې له ټولو په خپله جوړو کړیو بتانو او په تغیراتو کې له ښکېلو ستورو څخه راوګرځاوه، یوازې د یوه الله وحده لاشریک طرف ته مې کړ، زه ستاسې په ډول له مشرکانو څخه نه یم. سورة الانعام د ۷۶_۷۷-۷۸-۷۹ ایاتونو تفسیر.

دلته مې تر ډېره حده کوشش کړی دی چې د لوستونکو لپاره مکمله موضوع روښانه کړم ان شاءالله په راتلونکې برخه کې به یې په حکمت پوه شئ. په دې واقعه او مناظره کې حضرت ابراهیم ع له پیغمبرانه حکمت او نصیحت څخه کار واخیست او یکدم یې د دوی د ستورو عبادت ګمراهي یا غلطي ونه فرمایله، بلکې یوې داسې اندازې څخه یې کار واخیست چې د هر عقل والا انسان زړه او دماغ په خپله ترې متاثره شي او حقیقت وپېژني. لیکن د بت پرستۍ خلاف په خبرو کولو کې یې له سختۍ کار واخیست، ځکه چې د بت پرستۍ ګمراهي ښکاره او په ډاګه وه، پر خلاف د نجوم پرستۍ څخه چې د دې ګمراهي دومره واضحه او په ډاګه نه وه. اوس به دې ته راشو چې د حضرت ابراهیم ع په دې واقعه کې د دعوت کوونکو لپاره کوم حکمت پروت دی چې په لاندې ډول به بیان شي: اول دا چې د قومونو په تبلیغ او اصلاح کې نه هر ځای سختي مناسبه ده او نه هر ځای نرمي، بلکې د هر یوه، یوه موقع او یو حد وي. لکه چې د ت پرستۍ په معامله کې حضرت خلیل ع سخت الفاظ استعمال کړي دي چې د سورة الانعام په ۷۴ کې راغلي دي، ځکه چې د دوی ګمراهي ښکاره وه او د نجوم پرستۍ په معامله کې یې داسې سخت الفاظ نه دي استعمال کړي، بلکې په یو خاص تدبیر سره یې د معاملې حقیقت د خلکو ذهنونو ته کښېنه کړې دی. له دې څخه معلومه شوه چې عوام که په څه داسې غلطۍ کې اخته وي چې غلطي او ګمراهي یې په عامو نظرونو کې په ډاګه نه وي، نو عالم او مبلغ لره پکار ده چې د سختۍ پر ځای د دوی د شکونو او شبهو د لرې کولو تدبیر وکړي.

دوهم هدایت په کې دا دی چې د حق او حقیقت ښکاره کولو لپاره په دې کې حضرت ابراهیم ع خپل قوم ته داسې خطاب ونه کړ، چې تاسو داسې وکړئ، بلکې خپل حال یې ښکاره کړ، چې زه خو د دې شیانو عبادت نه شم کولی چې راخېژي او لوېږي. په دې وجه زه خپل مخ د یوې داسې هستۍ طرف ته کوم څوک چې د هر څه پیدا کوونکی او پالونکی دی مقصد یې دا و، چې تاسو لره هم همداسې کول پکار دي.

مګر په حکیمانه اندازه کې یې ورته خطاب وکړ او له ښکاره خطاب څخه یې منع وکړه چې د دوی فکر د ځان پر خلاف نه کړي. له دې څخه معلومه شوه چې د اصلاح کوونکي او تبلیغ کوونکي یوازې دا کار نه دی چې حقه خبره په هر ډول چې وي، ویې کړي، بلکې پر مبلغ لازمه ده چې په داسې انداز سره یې خبره ترسره کړي چې پر خلکو اثر وکړي.

ولې زیاتې ټرافیکي پېښې رامنځته کېږي؛ لامل یې څه دی؟

الحاج مولوي عبدالجبار درویش

ګرانو هېوادوالو، ورونو او خویندو! موږ او تاسو ټول مسلمانان که د الله تعالی پر قانون عمل وکړو، هرو مرو په دنیا او آخرت کې بریالیتوب زموږ او ستاسو په نصیب کېږي هېڅېري هم باید په خپګان او پرېشانۍ کې واقع نه شو. د ژوند تېرولو لایحه او طرزالعمل د اسلام مبارک دین موږ او تاسو ته الله تعالی راښودلی. الحمدلله ثم الحمدلله ، خو افسوس دادی چې موږ او تاسو د الله تعالی پر قانون باندې کاملاً عمل نه کوو، ځکه له ډېرو ستونزو سره مخامخ کېږو. اوس راځم خپلط اصلي موخې ته چې د موټر چلوونکو په اړه ده. په ټول هېواد کې د ټرافیکو مسئولینو یو قانون، یوه لایحه، یوه قاعده او یو طرزالعمل اختراع کړې او وضع کړې دی. په دې باندې اکثریت موټر چلوونکي عمل نه کوي، ځکه هم هره ورځ د هېواد په کونج کونج کې ټرافیکي پېښې کېږي او دغه متاثرې کورنۍ د غم پر تغر ژاړي او ډېرې ناخوالې په کورنۍ کې پاتې شي.

دکورنۍ غړي بې سرپرسته، بې مشره، بې وسه او بې کسه پاتې شي. د تعلیم! او زده کړې لاره پرېږدي، دکار کولو یا دسوال کولو پر لاره روان شي. د دې ټولو ناخوالو ، پرېشانیو او ستونزو دغه لاندې ذکر شوي وجوهات کېدای شي:

لومړی: پر قانون عمل نه کول،

دوهم: وسیع او پراخ فکر نه کول،

درېیم: په اسلامي طریقې سره سفر نه کول،

څلورم: د خپل ځان او د مسافرو خیال ساتل،

پنځم: د موټر چلوونکو بې احتیاطي،

شپږم: د موټرو زیات کثرت،

اووم: دعامو لارو عدم پراخي، یعنې د سړکونو تنګوالی،

او اتم: زیات سرعت.

خو لومړی شرط د موټر چلوونکو لپاره احتیاط دی، ځکه موږ او تاسو ته د ټرافیکو مسئولینو د سرعت اندازه ښودلې ده او هغه اصول او قوانین یې هم د ټرافیکو په درس او تدریس کې را ښودلي دي، خو افسوس دادی چې زموږ موټر چلوونکي ورونه په دې قانون او اصولو باندې عمل نه کوي. په شریعت کې موټر چلوونکی د ټولو مسافرو او سورلۍ ذمه وار او مسئول دی، چې په ډېر عزت، سکون او اطمینان سره یې خپل منزل ته ورسوي. په ټول هېواد کې ټرافیکي واقعات کېږي، خو په ځانګړې ډول د کابل- مزارشریف، کابل- کندهار، کابل- جلال اباد او کابل- تورخم. پر لارو ډېر زیات واقعات کېږي. د ټرافیکو د مسئولینو دا ذمه واري ده چې ګرځنده ټرافیک پولیس په کار واچوي او د موټر چلوونکو زیات سرعت کنټرول او اداره کړي او په زیات سرعت او د قانون په سر غړونې جزا او سزا ورکړي. زموږ او تاسو د ټولو د ژوند زیاته برخه له سفرونو سره ده او په خپلو سترګو ګورو چې له موټر چلوونکو بې احتیاطي ډېره کېږي او هېوادوال ورونه زیات شکایتونه کوي. زموږ او ستاسې د ټرافیکو د مسئولینو له خوا دې ستونزې ته توجه کول پکار دي.

افغان اعلانات

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۶۷۱۷۵-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد حسن فرزند محمد حسین بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۳۵

اطلاعیه کندز

اداره فواید عامه ولایت کندز در نظر دارد تا به تعداد ۱۳ قلم روغنیات مورد ضرورت وسایط ماشنیری خویش را به اعلان گذاشته آنعده از شرکت های خصوصی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی می باشند بعد از نشر اعلان الی مدت ۲۱ یوم کاری به این اداره تشریف آورده و درخواست های خویش را جهت اشتراک در پروسه مذکور ارایه نمایند.۱۶۱۲

اطلاعیه کندز

ریاست معارف ولایت کندز در نظر دارد پروژه تهیه و تدارک قرطاسیه جات غیر مطبوع چهار برنامه و حوزه های تعلیمی خویش را از طریق قرار داد تهیه و تدارک نماید. شرکت های امارتی ،تجارتی و لوژستیکی که خواهش عقد قرار داد را داشته باشند ، سر از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی در ریاست معارف ولایت کندز مراجعه نموده شرطنامه ملاحظه نموده و آفراخذ نمایند.۱۶۱۵

اطلاعیه کندز

ریاست معارف ولایت کندز از در نظر دارد پروژه تهیه و تدارک تجیزات دفتری چهار برنامه و حوزه تعلیمی ریاست معارف ولایت کندز خویش را از طریق قرار داد تیهه و تدارک نماید. شرکت های امارتی ، تجارتی و لوژستیکی که خواهش عقد قرار داد را داشته باشند سر از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی در ریاست معارف ولایت کندز مراجعه نموده شرطنامه را ملاحظه نموده و آفر اخذ نمایند.۱۶۱۳

اطلاعیه کندز

اداره فواید عامه ولایت کندز در نظر دارد تا پرزه جات مورد نیاز وسایط و ماشینری خویش را به اعلان گذاشته ،آنعده از شرکت های خصوصی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی می باشند میتوانند بعد از نشر اعلان الی مدت ۲۱ یوم کاری به این اداره تشریف آورده و درخواست های خویش را جهت در پروسه مذکور ارایه بدارند.۱۶۱۴

اطلاعیه کندز

ریاست شاروالی کندز از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (دو قلم روغنیات مورد ضرورت وسایط شاروالی کندز) برای مدت یک سال اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوطه را در مقابل پرداخت مبلغ ۱۰۰۰ یک هزار افغانی پول غیر قابل بازگشت از مدیریت قرار داد های ریاست شاروالی بدست آورده آفرهای خویش را مطابق شریاط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز به مدیریت قرار داد های ریاست شاروالی ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر به صورت نقدی مبلغ ۲۷۰۰۰۰ دو صد هفتاد هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشایی بعد از ختم معیاد اعلان در تالار جلسات ریاست شاروالی کندز تدویر میگردد.۱۶۱۱

موضوع : د داوطلبۍ لپاره د بلنې اعلان

د ټولګټو وزرات په شرایطو برابر ټولو دواطلبانو ته بلنه ورکوي چې د { پروژه ترمیم و بازسازی کتاف وال های پل کلان ماهی فروشان مسیر شاهراه هرات-اسلام قلعه} داوطلبۍ کې شرکت وکړي او د یادې پروژې د شرطنامې، بل احجام او تخنیکي اسنادو سافټ د دې وزارت د تدارکات ریاست د ودانیزو او مشورتي خدمتونو آمریت څخه ترلاسه او خپل آفرونه د شرطنامې، تدارکات قانون او کړنلارې د مندرجو شرایطو مطابق په ترلي او بند ډول د خپرېدو له نېټې څخه تر {۱۰:۰۰} مخکې له غرمې (ظهر) ۱۴۰۴/۰۴/۲۹ د ټولګټو وزارت د تدارکات ریاست ته چې د سرشمېرنې ملي اداري ترڅنګ، د پخوانی داخلې وزارت سرک، ملالۍ واټ کې واقع دی، وړاندې کړي، د یادونې وړ ده، انترنیټي او ناوخته رسېدونکي آفرونه د منلو وړ ندي.

د آفر تضمین د بانک ګرنټۍ په ډول (۳۶۰،۰۰۰) افغانی دی او د آفرپرانیستې غونډه په ۱۴۰۴/۰۴/۲۹ نېټه په {۱۰:۰۰} بجې مخکې تر غرمې د دې وزارت د تعمیر، دریم منزل، د غونډو په تالار کې دایرېږي.

موضوع: اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، وزارت معارف در نظردارد تا قرارداد پروژه تهیه و خریداری تعداد (۱۵۹) قلم اجناس و لوازم نلدوانی و آبرسانی ضرورت ریاست تعمیر مرکزی وزارت، تعمیر استخدام، وضوخانه و ادارات مربوط وزارت معارف بابت سال مالی ۱۴۰۴ را با شرکت تجارتی دنیا ثروت واقع چهار راهی قمبر، ناحیه پنجم ، مرکز کابل، افغانستان به قیمت مجموعی مبلغ (۳,۱۵۸,۰۱۱,۹۲) سه میلیون و یکصد و پنجاه و هشت هزار و یازده اعشاریه نود و دو افغانی اعطأ نماید.

اشخاص حقیقی وحکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات واقع محمد جان خان وات، ده افغانان، کابل، افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرارداد.

موضوع : د داوطلبۍ لپاره د بلنې اعلان

د ټولګټو وزرات په شرایطو برابر ټولو دواطلبانو ته بلنه ورکوي چې د { پروژه ترمیم و اعمار پلچک هفت چشمه ای نظر آباد } داوطلبۍ کې شرکت وکړي او د یادې پروژې د شرطنامې، بل احجام او تخنیکي اسنادو سافټ د دې وزارت د تدارکات ریاست د ودانیزو او مشورتي خدمتونو آمریت څخه ترلاسه او خپل آفرونه د شرطنامې، تدارکات قانون او کړنلارې د مندرجو شرایطو مطابق په ترلي او بند ډول د خپرېدو له نېټې څخه تر {۱۰:۰۰}مخکې له غرمې (ظهر) ۱۴۰۴/۰۴/۳۰ د ټولګټو وزارت د تدارکات ریاست ته چې د سرشمېرنې ملي اداري ترڅنګ، د پخوانی داخلې وزارت سرک، ملالۍ واټ کې واقع دی، وړاندې کړي، د یادونې وړ ده، انترنیټي او ناوخته رسېدونکي آفرونه د منلو وړ ندي.

د آفر تضمین د بانک ګرنټۍ په ډول (۲۴۰،۰۰۰) افغانی دی او د آفرپرانیستې غونډه په ۱۴۰۴/۰۴/۳۰ نېټه په {۱۰:۰۰} بجې مخکې تر غرمې د دې وزارت د تعمیر، دریم منزل، د غونډو په تالار کې دایرېږي.

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه اقامه کشور ترکیه به اسم محمد یعقوب معنوی فرزند محمد یحیی مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۳۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم لطیف خالقی فرزند خیرمحمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۷۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شریف الله جاهد فرزند شیر آقا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۹۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سلطان فیضی فرزند عزیز الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۹۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم یار گل لوگری فرزند محمد جمیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۹۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رضوان الله فاروقی فرزند غلام فاروق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۹۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احسان الله علی خیل فرزند حاجی اکبر خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۹۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالاحد صالح فرزند عبدالولی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نعمت الله فرزند محمد جمعه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم تاج محمود مرادی فرزند غلام حضرت مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۱۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حیات الله سادات فرزند رضوان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۱۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حمید رضا کریمی فرزند حکیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۱۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالخلیل قاسمی فرزند عبدالقادر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گل محمد مومند فرزند اول وزیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نصیر احمد غلامی فرزند غلام حضرت مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خیبر عابدی فرزند محمد نادر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی رضا محمدی فرزند رجب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قمر الدین محمدی فرزند نثار خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۷۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد صادق بارکزی فرزند شیریندل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۷۹

اعلان پروسه لیلام تعداد ۹۲ قلم اجناس داغمه

وزارت فواید عامه در نظر دارد به تعداد ۹۲ قلم اجناس داغمه خویش را در معرض لیلام قرار دهد. بناءً تمام شرکت ها، افراد و اشخاص حقیقی که خواهش اشتراک در پروسه داوطلبی را داشته باشند می توانند بتاریخ ۱۴۰۴/۵/۱ از ساعت ۸:۰۰ الی ۱۰:۰۰ صبح به ولایت کابل، ناحیه هفتم، چهلستون، سرک نو، آمریت ورکشاپ مربوطه وزارت فواید عامه حضور به هم رسانند. همچنان ۱۵ فیصد تضمین نقدی از قیمت مجموعی پیشنهادی داوطلب قبل از آغاز داوطلبی نقداً اخذ می گردد.

نوت: در صورتی که تاریخ ۱۴۰۴/۵/۱ سال جاری به طور غیر مترقبه از طرف حکومت رخصتی اعلان گردد جلسه آفرگشایی پروژه متذکره روز بعدی کاری در همان ساعت و مکان مندرج مکتوب هذا برگزار می گردد.

له افغانانو څخه ...

په همکارۍ ښوونځي بیارغوو. اروپايي ټولنې ټینګار کړی، چې په افغانستان کې پر اساسي اړتیاوو او پایښت لرونکي راتلونکې تمرکز لرو. یادې ټولنې زیاته کړې، چې د کډوالۍ نړیوال سازمان، د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ او یونیسف سره کار کوو، تر څو کډوالو، را ستنو شویو او کورنیو بې ځایه شویو ته د زده کړو او کاري بوختیا زمینه برابره کړو. دغه‌راز له کروندګرو سره د اقلیمي بدلون د ناوړه پایلو د اغېزو په مخنیوي کې کار کوو، تر څو کرنیز سیستمونه له اقلیمي بدلون سره عیار کړو.له بل لوري په کابل کې د جاپان سفیر تاکاشي کورمایا ویلي، چې جاپان د افغانستان لپاره د یونیسف له دفتر سره ۵ میلیونه ډالره مرسته کړې، تر څو دا بودیجه د ګوزڼ ناروغۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره وکارول شي.

په هېواد کې د بهرنیو ...

چې زموږ درانه هېوادوال یې په خپلو راکړو ورکړو کې وکاروي.))د کندهار او ننګرهار ولایتونو اوسېدونکي وايي: اوس مهال خلک په خپلو معاملاتو کې بهرنی اسعار او په ځانګړي ډول پاکستانۍ روپۍ (کلدارې) نه کاروي او دا کار منع شوی دی. د کندهار اوسېدونکی ګلالی وايي: « پخوا کلدارې وې، خو اوس په مطلق ډول بندې شوې دي او خاص له افغانیو کار اخیستل کېږي. موږ له خلکو غوښتنه کوو چې کلدارې بندې کړي او په افغانیو راکړه ورکړه وکړي.)) د ننګرهار اوسېدونکی عطاءالله وايي: ((د کلدارو کارول خو اوس مطلق بند دي او سودا په افغانیو کېږي. دا ډېر ښه کار وشو، ځکه افغانۍ زموږ خپلې پیسې دي او کلدارې باید ونه چلېږي. حکومت هم له دې کاره بد وړي او په افغانیو د راکړه ورکړې امر کوي.)) له بلې خوا، د اقتصادي چارو کارپوهان وايي: د بهرنیو اسعارو کارونه د هېواد اقتصاد ته زیان اړوي، د بیو د لوړېدو لامل کېږي او د افغانیو ارزښت بې ثباته کوي. اقتصادي کارپوه عبدالجبار ساپي وايي: ((په یوه هېواد کې د بل هېواد د کرنسیو کارېدل د دې هېواد پر خپلو اسعارو منفي اغېزه کوي. لکه څرنګه چې اسلامي امارت په ټولو ولایتونو کې اعلان کړی چې معاملات په افغانیو ترسره او د کلدارو او تومانو په ګډون د نورو هېوادونو د اسعارو له کارولو ډډه وشي، دا کار د افغانستان د خپلې کرنسۍ او اقتصادي ثبات لپاره مثبتې اغېزې لري. کله چې د بهرنیو اسعارو د کارولو مخه نیول کېږي، افغانۍ ثبات پیدا کوي او قیمتونه ورسره ښکته کېږي.)) په یو شمېر ولایتونو او په ځانګړي ډول ایران او پاکستان ته نږدې سیمو کې، د ډالرو، پاکستاني روپیو او ایراني تومانو کارونه د ورځنیو معاملو لپاره معمول وه. دا بهیر چې له پخوا تر اوسه پورې روان و، کله ناکله د اسعارو د نرخونو د بدلون او د افغانیو د ارزښت ټیټېدو سبب شو، خو تازه، افغان حکومت د بهرنیو اسعارو پر انتقال او پرې د معاملاتو ترسره کولو باندې محدودیتونه لګولي، ترڅو د بهرنیو اسعارو پر کارونې تکیه راکمه او د افغانیو ثبات وساتل شي.

میرویس عزیزي له کډوالو سره ...

باید وویل شي چې په وروستیو اوونیو کې له ایران څخه د افغان کډوالو پراخ ابېستل په ملي کچه جدي اندېښنې رامنځته کړې دي. هره ورځ په زرګونو خلک د اسلام کلا او نیمروز له پولو څخه هېواد ته ننوځي، چې ډېر یې مرستې ته اړتیا لري. د عزیزي بنسټ مرسته د دې بشري ناورین په ځواب کې د خصوصي سکتور له خوا له اعلان شویو سترو مرستو څخه یوه ده.

هرات کې د ۱۰۰ تنو ...

له بېلا بېلو سیمو څخه ۲۴۰ تنه نور روږدي کسان راټول او په یاد کمپ کې تر درملنې لاندې نیول شوي دي.

د یادونې وړ ده چې د اسلامي امارت په حاکمیت سره په ټول هېواد کې د نشه یي توکو کرکیله، قاچاق، پېر او پلور منع شوي او په دې سره په نشه یي توکو د اخته کسانو شمېر هم را کم شوی دی.

۷۰ سلنه ماشومان مو له ...

علت یې دا دی چې زموږ په دغې منطقه کې یو ښوونځی دی. اوس هم ډېر ماشومان له زده کړو بې برخې پاتې دي.)) ورته وخت کې د هلمند د پوهنې ریاست مسئولین وايي: د باباجي په ګډون د دغه ولایت په لرې پرتو سیمو کې د ښوونیز بهیر د پیاوړتیا لپاره یې هڅې پیل کړې. د پوهنې رئیس محمد عوض انصاري وویل: دغه ولایت کې له ۴۰۰ څخه زیات ښوونځي دامهال فعال دي چې زرګونه زده کوونکي پکې په زده کړو بوخت دي.دی وايي: ((باباجي ولسوالۍ منظمې لېسې لري، چې خپلې ودانۍ لري، نور نیمه کاره ښوونځي هم پکې شته، پر دا یوې دا دی اوس کار شروع دی، په راتلونکې کې هم هڅه کوو چې شته ښوونځیو کې ستونزې حل کړو.))

افغانستان په ۱۳۱ برخو کې ...

په یاد نندارتون کې، چې د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه جوړ شوی په ۱۰۰ غرفو کې بېلابېل تولیدات نندارې ته وړاندې شوي دي. د نندارتون مسئولین وايي چې دغه نندارتون کې یواځې افغان صنعتکاران نه؛ بلکې د ګاونډیو هېوادونو سوداګر هم ګډون لري.

مولوي عتیق الله عزیزي ...

شبکه کارۍ او هنرمندانه ډیزاین سره وړاندې شوي وو. په پرانیست‌غونډه کې د هنرستان رئیس مفتي لعل منیب خبرې وکړې او یو شمېر استادانو د هنر اوسنی وضعیت، د هنرمندانو ستونزې او پرمختیایي وړاندیزونه مطرح کړل. دوی غوښتنه وکړه، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت باید د هنري برخې ملاتړ ته ځانګړې پاملرنه وکړي، د هنرمندانو د اثارو نندارتونونه جوړ کړي او د هغوی اثار په ملي موزیم او ارشیف کې وساتي. مولوي عتیق الله عزیزي دا نندارتون د قراني هنر یوه نایابه بېلګه وبلله او ویې ویل، چې دا نندارتون د افغاني فرهنګ او اسلامي ارزښتونو ژور استازیتوب کوي. ښاغلي عزیزي ژمنه وکړه، چې د هنرمندانو ستونزې به د وزارت د امکاناتو له مخې حل کړي او هڅې به یې په مادي او معنوي ډول ونازوي. ده زیاته کړه، چې هنرمند باید د ملي یووالي، اسلامي ارزښتونو او د هېواد د مصالحو ژور استازیتوب وکړي او هنر باید له قومي، ژبني او سمتي توپیرونو پاک وي، تر څو خپل سپېڅلی رسالت ترسره کړي .په پای کې د وزارت هنري سلاکار سیدمحفوظ سیدخیلي او د دفتر رئیس مولوي احسان‌الله حسان هم خبرې وکړې او د یاسین شریف دا هنري نندارتون یې وستایه.

فراه کې یو تن په خپل ...

د یاد لوبغالي مسئول محمدرحیمي بیا وايي، چې دغه لوبغالی ۴۳ متره اوږدوالی او ۲۳ متره پلنوالی لري او په وینا یې، د جوړېدو چارې یې د دریو میاشتو په موده کې بشپړې شوې دي. د یادونې وړ ده چې دغه لوبغالی د شاوخوا ۸۰۰ نندارچیانو د کښېناستو لپاره ځای هم لري. فراه کې دغه لوبغالی داسې مهال جوړېږي چې له دې وړاندې د هېواد په نورو ولایتونو کې هم د یوشمېر سوداګرو او ورزشکارانو له لوري په خپل شخصي لګښت د فوټسال، والیبال او نورو سیالیو لپاره لوبغالي جوړ شوي دي.

افغان پلاوي چین کې ...

کارونې په اړه مفصل بحثونه او نظرونه تبادله شول. همداراز، د مخکښو نړیوالو شرکتونو او نهادونو له خوا خپلې تجربې، څېړنې، نوښتونه او نوې عصري ټکنالوژۍ له ګډونوالو سره شریکې او ننداري ته وړاندې شوې د یادونې وړ ده، چې افغانستان له ۲۰۱۳م کال راهیسې د وسپنې پټلۍ د نړیوالې اتحادیې (UIC) فعال غړی دی او هڅه کوي چې د نړیوالو مېتودونو او عصري ټکنالوژۍ په مرسته د هېواد د وسپنې پټلۍ شبکه معیاري او ظرفیت یې لوړ کړي.

بررسی وضعیت مهاجرین ...

بحران‌های انسانی و مهاجرتی قدردانی کرد و افزود: «در سطح جهانی با کسر شدید بودجه مواجه هستیم و در حال حاضر تنها اتحادیه اروپا ما را حمایت مالی می‌کند. ما تلاش داریم صدای مردم افغانستان را به گوش جامعه جهانی برسانیم و در این راستا در کابل، دوحه و شورای امنیت سازمان ملل دیدارها و رایزنی‌های متعددی داشتیم.» در ادامه، اقای عرفات رئیس کمیساریای عالی سازمان ملل در امور پناهندگان (UNHCR) در کابل نیز اطمینان داد که تمامی منابع موجود این نهاد با هماهنگی اداره مهاجرین ولایت هرات در اختیار روند بازگشت مهاجرین از ایران قرار خواهد گرفت. وی همچنین اعلام کرد که UNHCR مبلغ ده میلیون دلار را برای حمایت از این روند اختصاص داده است.

شیخ نوراحمد اسلام‌جار والی هرات نیز با ابراز امتنان از حمایت نهادهای بین‌المللی نظیر UNHCR، یونیسف (UNICEF) و سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM) اظهار داشت: «آغاز روند بازگشت مهاجرین یک بحران خطرناک انسانی بود که به‌سرعت تحت مدیریت قرار گرفت. تمامی نیازهای مهاجرین از جمله رسیدگی، انتقال، تأمین غذا و دارو در اسرع وقت انجام شده و ادامه خواهد یافت.»

وی افزود:«بحران مهاجرت در افغانستان، ناشی از تجاوز قدرت‌های خارجی و تغییرات اقلیمی تحمیل‌شده از سوی قدرت‌های بزرگ است که مردم افغانستان در آن هیچ نقشی نداشته و صرفاً قربانی شده‌اند.»

اسلام‌جار همچنین خاطرنشان کرد: «تجاوز آمریکا و متحدانش میراثی جز فساد، بی‌سرپرستی زنان و کودکان، ترویج کشت مواد مخدر و بیش از یک میلیون معتاد برای کشور ما بر جای نگذاشته است.»

در این دیدار، رحمت‌الله فیضان معاون نمایندگی وزارت امور خارجه در هرات و رؤسای دفاتر UNHCR، یوناما و IOM در هرات و جمعی از مسئولین ذیربط حضور داشتند.

افغانستان کې د انټرنېټ ...

انټرنېټي خدمتونه رسولي دي. د ښاغلي الکوزي په وینا، د اسلامي امارت له راتګ وړاندې د هېواد زیاتې سیمې له انټرنېټي خدماتو بې‌برخې وې او یا په لرې پرتو سیمو کې یوازې 2G خدمتونه کارېدل، خو اوس د افغانستان په بېلابېلو برخو کې 3G او 4G خدماتو ته لاسرسی شونی شوی دی.نوموړي دا هم وویل چې د مخابراتي خدماتو په پراخېدو سره، نه یوازې د ښارونو خلک له انټرنېټ څخه ګټه اخلي، بلکې کلیوالي او لرې پرتې سیمې هم ترې برخمنې شوې دي.د انټرنېټ په پراخېدو سره، خلک د تعلیم، تجارت، معلوماتو ترلاسه کولو، دولتي خدماتو، اړیکو او له نړیوالو بازارونو سره د وصل کېدو په برخه کې اسانتیاوې موندلې شي. زده کوونکي، ژورنالېستان، سوداګر او عام خلک کولای شي، له دې لارې خپل کارونه چټک او اغېزمن کړي، خو د انټرنېټ ناوړه کارونې هم شته، چې یکې له علمي لارو څخه د انحراف، اعتیاد، ناوړو محتواوو ته لاسرسی، ټولنیزې ستونزې، د وخت ضیاع او ځینې امنیتي ګواښونه شامل دي.

تاج محمد بهار

د بغلان د برښناستنو جوړولو ...

د تولیداتو کچه لوړه شي.

ده زیاته کړه: یاد کړن چې اوس د تولید له ځای څخه جوړې شوې ستنې ګُدام ته او له ګُدام څخه د ستنو په بارګیرۍ کې ترې ګټه پورته کېږي په جوړېدو سره یې له ۳۵۰زرو څخه تر ۵۰۰ زرو افغانیو پورې د دې فابریکې د عوایدو کچه هم په کلني ډول لوړېږي او هم په کار کې چټکوالی رامنځ ته کېږي.

په ورته وخت کې د فابریکې مسئولین او کارکوونکي وايي چې د دوی د تخنیکي ټیمونو هڅې دادي څو په اساسي ډول د یادې فابریکې ټوله ماشینري فعاله وساتي او د تولید کچه لوړه کړي.

د کابل ـ لوګر سړک د لومړي ...

د کابل ښار والۍ له لوري په کابل کې دننه او ولایتونو سره د نښلوونکو سړکونو د رغولو کارونه په لاره اچولي دي تر څو د کابل ښاریانو، مسافر وړونکو او بار وړونکو موټرو چلوونکو ته لازمې اسانتیاوې رامنځته شي. په همدې اساس د کابل ښاروالۍ فرهنګي سلاکار نعمت الله بارکزی وایي: د کابل- لوګر سړک لومړی فاز چې اووه کیلو متره کېږي، له منار جام څخه پیلېږي او تر چرخاب پورې دوام پیدا کوي، کارونه یې په چټکۍ سره روان دي او نږدې شل سلنه کارونه یې بشپړ شوي دي. د نوموړي په وینا: د یادې پروژې عملي کول به یو نیم کال وخت ونیسي او پر لومړي فاز به یې ۹۲۰ میلیونه افغانۍ لګښت راشي، د سړک په اوږدو کې به په بېلا بېلو برخو کې ویالې او نورې اړینې برخې ورغول شي چې هېوادوالو ته به اسانتیاوې رامنځته کړي او ترې به برخمن شي. هېره دې نه وي چې د کابل - لوګر سړک له پخوا راهیسې خراب و، چې د نه کنټرول له امله پرې غټو بار وړونکو موټرو د زیاتو وزنونو وړلو له امله ویجاړ شوی؛ خو اوس یې چې د بیا رغونې کارونه جریان لري، نو ستونزې به یې حل او د هېوادوالو د ساعتونو مزل به بېرته دقیقو ته را ټیټ شي. د یادونې وړ ده چې ورته ستونزو د مرکز کابل په ګډون په ډېرو ولایتونو کې سړکونه خراب کړي دي چې د اسلامي امارت په ځانګړې پاملرنې سره یې د بیا رغونې کارونه جریان لري او بېرته به په معیاري بڼه ورغول شي.

زیارمل هوتک

Hewad Daily

یکشنبه د محرم الحرام ۱۷ مه ۱٤٤۷ق کال I د چنګابښ ۲۲ مه ۱۴۰٤ ل کال I د2025م کال د جولای ۱۳ مه

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲٦۳٤۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شبر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
دارېکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲٦۳٤۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷٦٦۰۴۴۹٦٦-۰۷۳٦۰٦۰۷۳

فطرت: افغانستان په ۱۳۱ برخو کې پر ځان بسیا شوی

افغانستان اوس په ۱۳۱ تولیدي برخو کې پر ځان بسیا شوی او اوسمهال د کورنیو تولیداتو ملاتړ ته پراخې هڅې روانې دي. د افغانستان د اسلامي امارت مرستیال ویاند ملا حمدالله فطرت په هرات کې د زعفرانو له ملي نړیوال نندارتون څخه د لیدنې پر مهال ویلي چې اسلامي امارت د کورنیو تولیداتو د ودې او د دغو تولیداتو د ملي او نړیوال مارکېټ موندنې ملاتړ ته ژمن دی. نوموړي زیاته کړې: «افغانستان یوازې یو مصرفوونکی هېواد نه دی؛ بلکې په ګڼو برخو کې مو د تولید په برخه کې پر ځان بسیا کړی دی.» ورته مهال د هرات د اطلاعاتو اوفرهنګ رئیس مولوي احمدالله متقي وویل چې هېواد د پانګونې لپاره بشپړ امنیت لري او اداره یې له هغو پروګرامونو ملاتړ کوي چې د تولید د کلتور ودې، د سوداګرو او کورنیو صنعتکارانو د پیاوړتیا لامل ګرځي. همدا راز د هرات د سوداګرۍ او پانګونې خونې رئیس محمد یونس قاضي زاده وویل: ... ۳مخ

مولوي عتیق الله عزیزي د یاسین شریف هنري نندارتون پرانیست

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنر او فرهنګ مرستیال مولوي عتیق‌الله عزیزي د هېواد د مشهور شاعر دا نندارتون د استاد عبدالله حنیف او استاد نعمت‌الله حنیف له خوا چمتو شوی و، چې د سورت یاسین

او لیکوال اروانښاد استاد خلیل‌الله خلیلي په کور کې د سورت یاسین یو ځانګړی هنري نندارتون پرانیست. مبارک ایتونه پکې په شپږو ورقو او چوکاټونو کې په ښکلي خطاطۍ، ظریفه میناتورۍ ... ۳مخ

فراه کې یو تن په خپل لګښت د فوټسال لوبغالی جوړ کړی

د فراه محلي مسئولین وايي، چې دغه ولایت کې یوه تن په خپل شخصي لګښت په ۲.۲ میلیونو افغانیو د فوټسال لوبغالی جوړ کړی دی.د فوټسال دغه لوبغالی د ملایانو کلي کې جوړ او ګټې‌اخیستنې ته سپارل شوی دی. د فراه د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس محمدعبدالحی سباوون رسنیو ته ویلي، چې دغه لوبغالی د ملایانو کلي د یوه اوسېدونکي په ۲.۲ میلیونو افغانیو جوړ شوی دی ... ۳مخ

افغان پلاوي چین کې د وسپنې پټلۍ اړونده غونډه کې ګډون وکړ

د ټولګټو چارو وزارت د وسپنیزې کرښې مرستیال مولوي محمد اسحاق صاحبزاده او مل پلاوي یې په چین هېواد کې د وسپنې پټلۍ د نړیوالې اتحادیې (UIC) په ۱۲مه کنګره کې ګډون وکړ. سږکال دغه کنګره د چین هېواد په کوربتوب او د دغه هېواد د لومړي وزیر د مرستیال په مشرۍ ترسره شوه، چې پکې د نړۍ له ۶۰ هېوادونو څخه لوړ رتبه چارواکو، د وسپنې پټلۍ ماهرینو، کارپوهانو، څېړونکو او د وسپنې پټلۍ د مخکښو شرکتونو مسئولینو ګډون کړی وو. په غونډه کې د ګډونوالو ترمنځ د وسپنې پټلۍ په نړیواله کچه وروستي انکشافات، پرمختګونه، ظرفیت لوړونه او د عصري ټکنالوژۍ ... ۳مخ

دیدار والی هرات با رئیس هیئت یوناما؛
بررسی وضعیت مهاجرین و نقش نهادهای بین‌المللی در مدیریت بحران

شیخ مولانا نوراحمد اسلام‌جار والی هرات امروز با خانم روزا اوتونبایوا نماینده ویژه سرمنشی سازمان ملل و رئیس هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) و هیئت همراه وی دیدار و گفتگو کرد.

در این دیدار خانم اوتونبایوا هدف سفر خود به هرات را ارزیابی فعالیت‌های نمایندگی کمیساریای عالی سازمان ملل در امور پناهندگان (UNHCR) و دفتر اسکان بشر سازمان ملل (UN-Habitat)و همچنین بازدید از وضعیت مهاجرین در مرز اسلام‌قلعه اعلام نمود. وی ضمن ابراز تأسف از شرایط دشوار مهاجرین افغان، از تلاش‌ها و نقش مؤثر مقام ولایت هرات در مهار و مدیریت ... ۳مخ

افغانستان کې د انټرنېټ کاروونکو شمېر ۱۵ میلیونو ته رسېدلی

د افغانستان اسلامي امارت د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت وايي: اوس مهال په هېواد کې د انټرنېټ کاروونکو شمېر شاوخوا ۱۵ میلیونو ته رسېدلی، چې دا د تېرو کلونو په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښيي. د یاد وزارت ویاند عنایت‌الله الکوزي ورځپاڼو ته وویل، چې د اسلامي امارت له راتګه وړاندې په ټول هېواد کې شاوخوا ۲۱ میلیونه فعال سیمکارتونه موجود وو، چې له دې جملې ۱۰ میلیونه یې د انټرنېټ لپاره او ۱۱ میلیونه نور یې یوازې د غږیزو اړیکو لپاره کارېدل. نوموړی زیاتوي: اوس مهال په افغانستان کې شاوخوا ۲۶ میلیونه فعال سیمکارتونه شتون لري، چې له دې ډلې نږدې ۱۵ میلیونه یې انټرنېټ کاروي، دا پرمختګ ښيي چې موږ د هېواد ډېرو برخو ته ... ۳مخ

بغلان کې د برکې ولسوالۍ لپاره ودانۍ جوړه شوه

د بغلان ولایت ځایي مسئولین وايي چې د دغه ولایت د برکې ولسوالۍ ودانۍ د ۲۱ میلیونو افغانیو په لګښت جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د بغلان ولایت د دفتر رئیس مولوي لعل محمد راشد باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې د برکې ولسوالۍ د مقام لپاره دغه ودانۍ د کورنیو چارو وزارت په مالي ملاتړ د ۲۱ میلیونو افغانیو په لګښت جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.د نوموړي په وینا دغه ودانۍ د ۲۶ اداري خونو او د ټولو اړینو اسانتیاوو په درلودلو سره په معیاري بڼه جوړه شوې، چې ورسره به د مراجعینو او کارکوونکو ستونزې حل شي.

د بغلان د برښناستنو جوړولو فابریکې هوايي کرن جوړ کړ

د بغلان د برښنا د ستنو جوړولو فابریکې مسئولینو د یو میلیون افغانیو په لګښت د یو هوايي کرن د جوړېدو او ګټې اخیستنې ته یې د سپارل کېدو خبر ورکړی دی.

د بغلان د برښنا د ستنو جوړولو فابریکې مشر مولوي نقیب الله نظري باختراطلاعاتي آژانس ته ویلي چې د دې فابریکې تخنیکي تیم یو هوايي کرن چې د ۱۰ ټنه وزن د لېږد وړتیا لري د خپلو پراخو هڅو په ترڅ کې جوړ او ګټې اخیستنې ته چمتو کړی، څو ورسره د دې فابریکې ... ۳مخ

میدان وردګو کې د پرمختګ عامه کتابتون پرانیسته

په میدان وردګو کې پرمختګ عامه کتابتون د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د دولتي او ځایي مسئولینو، ښوونکو، زده کوونکو او مخورو په حضور کې پرانیستل شو. د دغه عامه کتابتون ودانۍ د وردګو د چک ولسوالۍ د شیخ یاسین په کلي کې د هوډ تعلیمي او ټولنیزو خدماتو موسسې د بنسټګر ننګیالي اتل په نوښت جوړه شوې ده.یاد کتابتون په معیاري او اساسي ډول ډیزاین او رغول شوی چې د ۱۲ زره عنوانه کتابونو د ذخیرې او په یوه وخت کې د سلو کسانو د مطالعې ځای لري. د دې کتابتون د مسئولینو په وینا له دې بنسټ څخه د سیمې هره طبقه وګړي په وړیا توګه د مطالعې او څېړنې د بډاینې لپاره استفاده کولای شي.

جاپان نړۍ کې د چټک انټرنېټ ریکارډ مات کړ



اکونومیک ټایمز خبر ورکړی، چې جاپاني څېړونکي بریالي شوي نړۍ کې د چټک انټرنېټ ریکارډ په خپل نوم ثبت کړي. د اکونومیک د راپور په اساس ثبت شوی سرعت ثانیه کې ۱.۰۲ پتابایټ چې د (۱۲۷زره ۵۰۰ ګیګابایټ پر ثانیه) معادل سره برابر دی. جاپاني انجنیرانو دغه لاسته راوړنه د اوسني نوري فایبر له ټکنالوژۍ ترلاسه کړې چې نړۍ کې د اطلاعاتو، محاسباتو څخه د ګټې اخیستنې طریقه او له مصنوعي ځیرکتیا د استفادې بڼه به بدله کړي.په ورته مهال بزنس ټوډې هم د یاد انټرنېټ سرعت نړۍ کې د چټک انټرنېټ په توګه ثبت کړی.

خوست کې یو پل جوړ شو

د خوست په مندوزیو ولسوالۍ کې د سیمې د اوسېدونکو په شخصي لګښت یو پل جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوی دی. سرچینې باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې دغه پل د مندوزیو ولسوالۍ د ځایي اوسېدونکو او ځوانانو په شخصي لګښت د ۳.۵ میلیونو افغانیو په لګښت جوړ او ګټې اخیستو ته سپارل شوی دی.
سرچینې زیاته کړې، چې دغه پل ۲۵ متره اوږدوالی او ۴ متره سور لري، چې د جوړېدو چارې یې د یو نیم کال په موده کې بشپړې شوې او ورسره د سیمې د اوسېدونکو لپاره ګڼې اسانتیاوې برابرې شوې دي.

د کابل ـ لوګر سړک د لومړي فاز د بیارغونې چارې د ۹۲۰ میلیونو افغانیو په لګښت روانې دي

د هېواد په ګوټ ګوټ کې د خلکو د اسانتیاوو لپاره د اسلامي امارت له لوري ټل پراختیایي پروژې په لاره اچول شوي دي چې د دې پراختیایي پروژو له جملې په زر ګونو یې ګټې اخیستو ته سپارل شوې دي. دا چې اوس مو هېواد له هر څه زیات بیا رغونې او صنعتي کېدو ته اړتیا لري، نو اسلامي امارت هم دغو تشو ته په کټلو سره اقدام کړی او د هېواد لپاره حیاتي کارونه پر مخ وړي. د پراختیایي پروژو په لړ کې د کابل ښاروالۍ د کابل او لوګر سړک د جوړولو خبر ورکوي او وايي: لکه څنګه چې هېوادوالو ته معلومه ده ... ۳مخ